## د DCF د موندنو پریکړه څه شی دی؟

د قضیې موندنې هغه پریکړه ده چې په ګوته کوي چې آیا هغه څه چې رامنځته شوي دي د ناوړه ګټې اخیستنې/بې پروایۍ اړوند د ایالت له تعریفونو سره مطابقت لري او که نه او دا چې ایا تورن شوی شخص باید له ماشوم څخه د ساتنې په یوه مرکز کې چې د کانزاس ایالت د روغتیا او چاپیریال ساتنې وزارت (KDHE) یا له ماشوم څخه د پاملرنې او استوګنځي ته د جواز ورکولو اداري (DCF) لخوا تنظیمیږي د استوګنې، کار او یا په منظم ډول د داوطلبۍ اجازه ونه لري. DCF د قضیې د موندنو لپاره درې پریکړې لري.

- "غیر مستندې" موندنې دا معنی لري چې د حقایقو او یا شرایطو په سنجولو سره به یو منطقي شخص دې پایلې ته و رسیږي چې په ډېر احتمال سره (ډیری شواهدو) چې د تورن شخص کړنې او نه فعالیتونه د کانزاس په نافذه قوانینو (K.S.A.) او اداري تګلارو (K.S.A.) کې د ناوړه ګټې اخیستنې او/یا بې پروایۍ له ذکرو شویو تعریفونو سره مطابقت نه لري.
- یوه "تایید شوې" موندنه دا معنی لري چې یو مجازي شخص د حقایقو او شرایطو په سنجولو سره پرېکړه کوي چې په ډېر احتمال سره (په ډېرو شواهدو سره) د تورن شخص کړنې یا نه فعالیتونه د کانزاس په تشریح شویو قوانینو (K.S.A.) او اداري تګلارو (K.S.A.) کې د ناوړه ګټې اخیستنې/بې پروایۍ له ذکرو شویو تعریفونو سره مطابقت لري.
- یوه "مستنده" مونده دا معنی لري چې یو مجازي شخص د حقایقو او شرایطو په سنجولو سره پرېکړه کوي چې په ډېر احتمال سره (په ډېرو شواهدو سره) د تورن شخص کړنې یا نه فعالیتونه د کانزاس په تشریح شویو قوانینو (K.S.A.) او اداري تګلارو (K.S.A.) کې د ناوړه ګټې اخیستنې/بې پروایۍ له ذکرو شویو تعریفونو سره مطابقت لري او دا چې تورن کس باید له ماشوم څخه د ساتنې په یوه مرکز کې چې د کانزاس ایالت د روغتیا او چاپیریال ساتنې وزارت (KDHE) او یا له ماشوم څخه د پاملرنې استوګنځي ته د جواز ورکولو اداري (DCF) لخوا تنظیمیږي د استوګنې، کار او یا په منظم ډول د داوطلبۍ اجازه ونه لري.

که چېرې شواهد په مستندو موندنو دلالت کوي، هغه شخص چې د ناوړه ګټې اخیستنې یا بې پروایۍ مسئول ګڼل کېږي، نوم یې د ایالت په کچه د پیژندل شویو مجرمانو په هغه لیست کې لیکل کېږي چې د کانزاس ایالت د ماشوم ځورونې/ بې پروایۍ د مرکزي ثبت په توګه پیژندل کېږي.

تاسو به د موندو د پریکړې یوه کاپي په لیکلې بڼه ترلاسه کړئ.

**د کانزاس ایالت د ماشومانو د هوساینې ارزښتونه: د هغه څه اړوند بیانیې چې مونږ ورباندې باور لرو او پر بنسټ یې مونږ خپل کارونه ترسره کوو.**

1. ټول ماشومان د پاملرنې او له ناوړه ګټې اخیستنې او بې پروایۍ څخه د خلاصې حق لري.
2. د امکان په صورت کې له ماشومانو څخه باید په خپلو کورنیو کې ساتنه وشي.
3. کورنۍ د ماشومانو د روغتیا او ښه والي لپاره خورا مهمې دي.
4. ماشومان خپلو وړتیاوو ته د ودې ورکولو په موخه په یوه سالم چاپیریال کې دوامداره پاملرنې ته اړتیا لري.
5. ماشومان او کورنۍ باید د خپلې کورنۍ د مخینې او کلتور په چوکاټ کې درک شي.
6. ټول ماشومان داسې سالمو او دوامداره اړیکو ته اړتیا لري چې ثبات او تړاو رامنځته کوي.
7. د سرپرستۍ پاملرنه یوه لنډ مهاله مداخله ده، چې د هغې اصلي موخه بیا ځلي ادغام دی او که چېرې بیا ځلي ادغام امکان ونه لري، دوهمه موخه یې په زوی/لور ولۍ نیولو په څیر د تل پاتې والي یو بل شکل ته لاسرسی دی.
8. د کانزاس ایالت د ماشومانو د هوساینې کارکوونکي باید ستونزمنو مسایلو ته د رسېدنې پر وخت له ماشومانو او کورنیو سره له صداقت، درک او مهربانۍ څخه کار واخلي.
9. د کانزاس ایالت د ماشومانو د هوساینې کارکوونکي باید ژمن، په شرایطو برابر، ځانګړې زده کړه او مهارتونه ولري او د یوه اغیزناک جوړښت لرونکي سازمان لخوا یې باید ملاتړ وشي.
10. والدین د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې اصلي مسوولیت په غاړه لري. خو ټوله ټولنه کولای شي له کورنیو سره مرسته وکړي، تر څو ماشومان خپل نهایي ظرفیت ته ورسیږي.

**د ایالت قانون DCF ته اجازه نه ورکوي چې تاسو ته ووایي چې چا راپور جوړ کړی دی.**

دفتر

د CPS متخصص

ټلیفون

د کانزاس ایالت د ماشومانو او کورنیو څخه د مخنیوي او ساتنې خدمتونو څانګه
555 S Kansas Ave. 4th Floor, Topeka, KS
66603 888-369-4777

PPS-2010 REV Jan. 21



# د کانزاس ایالت له ماشومانو څخه د ساتنې خدمتونه

## هغه څه چې تاسو باید له ماشوم څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او یا بې پروایۍ د پلټنو په اړه پوه شئ

Kansas
AD ASTRA PER ASPERA
د ماشومانو
او کورنیو
***د مخنیوي او***
***خوندیتوب خدمتونه***

## DCF ولې له ما څخه پلټنې کوي؟

د ایالتي قانون له مخې د ماشومانو او کورنیو په چارو کې د کانزاس ریاست (DCF) او/یا د قانون پلي کوونکي چارواکي اړ دي چې له ماشوم څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او یا بې پروايۍ راپورونه و ارزوي او پریکړه وکړي چې آیا ستاسو د ماشوم د خوندیتوب لپاره ګام پورته کولو ته اړتیا شته او که نه.

## څه شی به رامنځته شي؟

د DCF کارکوونکي خپل ځانونه در پیژني او له تاسو سره د راپور په اړه او دا چې وروسته به څه رامنځته شي، خبرې کوي.

د DCF کار کوونکي او یا د قانون پلي کوونکي چارواکی معلومات را غونډوي، تر څو پریکړه وکړي چې آیا د ناوړه ګټې اخیستنې او بې پروايۍ تور (تورونه) رامنځته شوي او یا د رامنځته کېدو خطر یې شتون لري او که نه.

دا چې ستاسو د ماشوم د خوندیتوب لپاره کوم ګام پورته کولو ته اړتیا شته یا نه، په اړه یې د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، DCF به له تاسو څخه و غواړي چې ستاسو له ماشوم، د کورنۍ غړي او هر هغه چا سره ووینې او خبرې وکړي چې له حالت څخه خبر وي.

DCF به له تاسو سره د هغو کارونو په اړه چې تاسو یې اوس مهال له کورنۍ سره د مرستې په موخه ترسره کوئ او نورو هغو لارو چارو اړوند خبرې وکړي چې د هغې له لارې ستاسو له کورنۍ څخه ملاتړ ترسره کېږي.

کیدای شي DCF له تاسو، ستاسو د کورنۍ له نورو غړو او هرې هغې سرچینې سره چې تاسو یې پیژنئ، ستاسو له ماشوم څخه د ساتنې په موخه د پاملرنې د یوه پلان په رامنځته کولو کې مرسته وکړي

## زما حقونه څه شی دي؟

- له DCF سره له خبرو کولو څخه ډډه کول
- په هغه څه باندې پوهېدل چې په اړه یې راپور ورکړل شوی دی
- د DCF د خدمتونو غوښتنه کول
- د DCF د موندنو د پریکړې په اړه پوهېدل
- د ثابتې شوې یا تایید شوې موندنې د پریکړې په اړه د اعتراض او یا د استیناف غوښتنه کول

## د مرستې لپاره څه کولای شم؟

د DCF کارکوونکي غواړي ستاسو له کورنۍ سره مرسته وکړي. د دې لپاره چې ستاسو کورنۍ د اړتیا وړ مرسته ترلاسه کړي، مونږ د تر ټولو غوره لارې چارې د موندلو لپاره له تاسو سره په ګډه کار کوو. په مهربانۍ سره په شاتنۍ برخه کې د کانزاس ایالت د ماشومانو د هوساینې ارزښتونو ته مراجعه وکړئ، چې د اداري ارزښتونه تشریح کوي چې له کورنیو سره زمونږ د ګډ کار ملاتړ کوي.

تاسو کولای شئ د DCF له کارکوونکو او د قانون له پلي کوونکو سره د همکارۍ او یا پرانیستو خبرو له لارې مرسته وکړئ. د خپلوانو، ملګرو، ډاکټرانو او نورو هغو خلکو نومونه ذکر کول هم ګټور دي چې له تاسو او ستاسو له ماشوم څخه په مستقیم ډول معلومات لري.

## که چېرې زه له DCF سره له خبرو کولو څخه ډډه وکړم، نو څه به رامنځته شي؟

دا ستاسو حق دی چې له DCF سره له خبرو کولو څخه ډډه وکړئ. مګر له DCF سره په خبرو کولو سره تاسو کولای شئ د DCF له کار کوونکو سره مرسته وکړئ چې ستاسو د کورنۍ حالت په ښه ډول درک کړي. په دې کار سره به ډاډ ترلاسه کړو چې د ټولو د خوندیتوب لپاره د خدمتونو په موخه تر ټولو غوره ممکنه پریکړې ترسره شي.

که چېرې تاسو پریکړه وکړئ چې د DCF له کارکوونکو سره خبرې و نه کړئ او د DCF کارکوونکي و نه شي کولای معلومه کړي چې ستاسو ماشوم خوندی دی، کیدای شي DCF د قانون د پلي کوونکو د مرستې یا د محکمې د حکم غوښتنه وکړي.

د قانون یو پلي کوونکی چارواکی چې په دې باور وي چې ماشوم ته به زیان ورسیږي، د دې واک لري چې ماشوم د پاملرنې په مرکزونو کې شامل کړي. که چېرې د دې کار اړتیا وي، نو چارواکی به ستاسو ماشوم خوندي ځای ته یوسي.

## له پروسې څخه د نارضایتۍ په صورت کې څه کار ترسره کولای شم؟

د خپلو اندیښنو په اړه له DCF سره خبرې وکړئ او په ډېرې ارامۍ سره څرنګه چې مو حقایق لیدلي دي وواياست. که چېرې له DCF له کارکوونکو سره له خبرو کولو وروسته اندیښنې او یا پوښتنې لرئ، تاسو کولای شئ د DCF له سوپروایزر سره خبرې وکړئ.

همدارنګه تاسو کولای شئ د DCF د دفتر د مراجعینو له خدمتونو سره د 1-888-369-4777 شمېرې له لارې اړیکه ونیسئ او یا DCFCustomerService@ks.gov ته برېښنالیک واستوئ.

## آیا زما ماشوم به له ما څخه جلا شي؟

DCF په دې باور دی چې ماشومان باید د خپلو والدینو تر څنګ وي، مګر په هغه صورت کې چې معلومه شي چې ماشوم خوندي نه دی. ستاسو ماشوم به یوازې په هغه صورت کې له کور څخه و ایستل شي چې حالات ډېر جدي وي او تاسو و نه شئ کولای پخپله له خپل ماشوم څخه ساتنه وکړئ.

که چېرې ستاسو ماشوم له ځورونې او یا بې پروايۍ سره مخ شوی او یا امکان لري مخ شي، DCF به ستاسو له کورنۍ سره مرسته وکړي چې د هر کس د خوندیتوب په موخه یو پلان جوړ کړي.

د دې لپاره چې ستاسو د ماشوم له خوندیتوب او نه زیانمنېدو څخه ډاډ ترلاسه کړو، کیدای شي تاسو لاندې شیان په پام کې ونیولی شئ:

- که چېرې یو څوک په کورنۍ کې ستاسو ماشوم ته ګواښ وي، آیا تاسو کولای شئ دې شخص ته ووایاست چې ولاړ شي؟
- آیا ستاسو د کورنۍ کوم غړی او یا ملګري غواړي او کولای شي په خپل کور کې ستاسو له ماشوم څخه ساتنه وکړي؟

که چېرې اوسمهال له دې دوو غوراویو څخه هیڅ یو امکان و نه لري، کیدای شي د قانون پلی کوونکی ستاسو ماشوم د پاملرنې مرکز ته یوسي او یا کیدای شي قاضي ستاسو د ماشوم لنډ مهاله سرپرستي DCF او یا بل شخص ته ور کړي.

## آیا محکمې ته به ولاړ شم؟

معمولاً والدین کولای شي د محکمې له مداخلې پرته اړین بدلونونه رامنځته کړي. DCF باید د قضیې ثابتې شوې او تایید شوې موندنې د ښاري سیمې او یا حوزې له څارنوال/مدافع وکیل سره شریکې کړي. د ښاري سیمې یا حوزې مدافع وکیل یا څارنوال پریکړه کوي چې آیا په محکمه کې کومه قضیه ثبت کړي او که نه. که چېرې (پاملرنې ته د اړتیا لرونکي ماشوم) عریضه وړاندې شي، محکمه به یوه استماعیه غونډه ترسره کړي او تاسو کولای شئ له یوه وکیل سره هلته ولاړ شئ. کیدای شي DCF شاهد وي، مګر DCF د محکمې په پریکړه باندې هیڅ ډول اغیز نه لري.

که چېرې ستاسو ماشوم د قانون د پلي کوونکي چارواکي او یا د محکمې د بیړني حکم پر بنسټ له تاسو څخه جلا کړی شي، د محکمې استماعیه غونډه باید (د اونۍ له وروستیو او رخصتیو پرته) د 72 ساعتونو په لړ کې ترسره شي، تر څو معلومه کړي چې آیا ستاسو ماشوم کولای شي بیرته تاسو ته ستون شي او که نه.